دافغانستان دجمهوری دولت رسمی جریده

# رسمی جریده

شپږمه گڼه

پرله پسی لمبر (۲۷۳)

نیټه: دوشنبه د ۱۳۵۳ کال دغوئی دمیاشتی (۳۰)

په دی گڼه کښې :

۱ـ دتجارتی محا کماتو داصول دقانون د (۳۲۰) مادی تعدیل

۲ـ دترا نزیتی امـوالو دانتقال دتصدی اساسنامه .

دامتیاز خاوند : دعدل وزارت

مسئول مدیر: محمد داؤد (قیوم)

مسلکی غړی : نوریه (بشیر)

عبدالحبیب (امین)

دتیلفون نمبر : ۲۲۲۱۳

پته: دعدل وزارت کابل، افغانستان

د افغانستان د جمهوری دولت رسمی جریده

## دعظمی صدارت د۱۳۵۳ کال دغوایی دمیاشتی دپنځه ویشتمی نیټی (۲۸۱) گڼه فرمان

ښاغلی داکتر عبدالمجید عدلیه وزیر!

دوزیرانو مجلس د۱۳۵۳ کال دغویی دمیاشتی په غونډه کښی په خپله (۴۹۱) گڼه فیصله کښی دعدلیی وزارت د۱۳۵۳ کال دغویی دمیاشتی دخلور و یشتمی نیټی عرض پاڼی ته په کتنه دتجارتی محاکماتو داصول دقانون د (۳۲۰) مادی دتعدیل په هکله لاندی مراتب تصویب کړل:

«دتجارتی محاکماتو داصول دقانون د ۳۲۰ مادی تعدیل چه ددارالانشاء مهر پری لگیدلی منظور دی.»

دوزیرانو دعالی مجلس دتصویب مراتب چه دافغانستان دجمهوری دولت درئیس دحضور دمنظوری په شرف رسیدلی او د۱۳۵۳ کال دغویی دمیاشتی دخلور و یشتمی نیټی په (۳۵۴) گڼه کښی ثبت شویدی تاسی ته خبر درکړ شو ترڅو په رسمی جریده کښی د هغه خپریدو ته اقدام وشی.

داکتر محمد حسن شرق

## فرمان شماره ۲۸۱ مورخه ۲۵ ر ۲ ر ۱۳۵۳ صدارت عظمی

ښاغلی دکتور عبدالمجید وزیر عدلیه!

مجلس وزرا تحت فیصله شماره (۴۹۱) در جلسه تاریخی ۲۴-۲-۱۳۵۳ با ملاحظه ورقه عرض مورخ ۲۴-۲-۱۳۵۳ وزارت عدلیه راجع به تعدیل ماده (۳۲۰) قانون اصول محاکمات تجارتی مراتب آتی را تصویب نمود:

تعدیل ماده (۳۲۰) قانون اصول محاکمات تجارتی که به مهر دارالانشاء رسیده منظور است

مراتب تصویب مجلس عالی وزراء که به شرف منظوری حضور رئیس دولت جمهوری افغانستان رسیده وبه شماره (۳۵۴) مورخه ۲۴-۲-۱۳۵۳ ثبت گردیده بشما اطلاع داده شد تا در نشر آن به جریده رسمی اقدام گردد.

داکتر محمد حسن شرق

# جریده رسمی

## دتجارتی محاکماتو داصول دقانون د(۳۲۰) مادی تعدیل

۱ـ دمحاکمی دپای ته رسیدو داعلام څخه وروسته دحکم دابلاغ له پاره ورځ او ساعت ټاکل کیږی. حکم دمحکمی په ښکاره غونډه کښی لوستل کیږی.

دمحکمی دلیك دفتر دقضائی هیئت لهخوا دپریکړی دلاسلیك او مهرڅخه وروسته ددعوی داصحابو د شمیر سره سم فیصله لیکونه برابروی او ددعوی دواړو خواووته ئی ورکوی .

دلیك دفتر مکلف دی چه د حکم دابلاغ نه وروسته له محکوم علیه څخه دفیصلی دمحصول دتحصیل په په هکله دحکومت مربوطه تحصیلی څانګی ته رسماً خبر ورکړی. پههغه صورت کی چه محکوم علیه دحکم دابلاغ پراساس د تعرفی نخیستلو اود محصول دورکړی له پاره حاضر شی، تحصیلیڅانګیته دخبرورکولو ضرورت نشته.

۲ـ هغه فیصلی چه ددغه ضمیمی دانفاذ څخه مخکښی دمحصول دنه ورکولو په علت پرځای شوی نهدی ددغه تعدیل تابع دی.

۳ـ دغه حکم په رسمی جریده کی لهخپریدو وروسته نافذیږی.

## تعدیل ماده (۳۲۰) قانون اصول محاکمات تجارتی .

۱ـ پس از اعلام ختم محاکمه روز و ساعتی برای ابلاغ حکم معین می شود. حکم در جلسه علنی محکمه قرائت میگردد.

دفتر تحریرات محکمه پس از امضاء ومهر فیصله از طرف هیأت قضائی به تعداداصحاب دعوی فیصله خط ها را تهیه و بطرفین دعوی تفویض می نماید.

دفتر تحریرات مکلف است بعد ازابلاغ حکم در مورد تحصیل محصول فیصله از محکوم علیه به شعبه مربوطه تحصیلی حکومت رسماً اطلاع دهد، در صورتیکه محکوم علیه باساس ابلاغ حکم باخذ تعرفه و تادیه محصول ذمت خویش حاضر گردد ضرورت به اطلاع شعبهٔ تحصیلی ندارد.

۲ـ فیصله هائیکه قبل از نفاذاین ضمیمه بنابر عدم تادیهٔ محصول تعمیل نشده تابع این تعدیل میباشد.

۳ـ این حکم بعد از نشردرجریدهٔ رسمی نافذ میگردد.

## دعظمی صدارت د۱۳۵۳ کال دوری دمیاشتنی دنه‌ویشتمی نیټې (۱٤۰) گڼه فرمان

**ښاغلی داکتر عبدالمجید عدلیه وزیر :**

د وزیرانو مجلس د ۱۳۵۳ کال دوری د میاشتنی د اوه ویشتمی‌نیټې په غونډه کی په خپله (٤۵۰) گڼه فیصله کی د تجارت د وزارت د ۱۳۵۳ کال دوری د میاشتی د شپږ ویشتمی نیټې(۱۵) گڼې عرض پانې ته په کتنه دترانزیټي اموا لو دانتقال دتصدی داساسنامی په‌هکله لاندی مراتب تصویب کړل.

«د ترانزیټي اموا لو د انتقال د تصدی اسا سنامه چه ددالانشا ء مهر پری لگیدلی په‌څوار لسو مادو کی دننه منظور ده.»

د وزیرانو د عالی مجلس د تصویب مراتب چه د افغانستا ن د جمهوری دولت د رئیس د حضور د منظوری په شرف رسیدلی او د ۱۳۵۳ کال دوری د میاشتی د اته‌ویشتمی نیټې په (۱۲۳) گڼه کی ثبت شوی دی تاسی ته‌خبر در کړ شو. تر څو په رسمي جریده کی د هغه خپریدو ته اقدام وشی.

**داکتر محمد حسن شرق**

## فرمان نمبر (۱٤۰) مورخهٔ ۲۹ ـ ۱ ـ ۱۳۵۳ صدارت عظمی

**ښاغلی دکتور عبدالمجید وزیر عدلیه !**

مجلس وزراء تحت فیصله (٤۵۰) در جلسه تاریخی ۲۷ ـ ۱ ـ ۱۳۵۳ با ملاحظه ورقه عرض شماره (۱۵) مورخ ۲٦ ـ ۱ ـ ۱۳۵۳ وزارت تجارت راجع به اساسنامه تصدی انتقال اموال ترانزیتی مراتب آتی را تصویب نمود :

(اساسنامه (د ترانز یتی اموالو دانتقال تصدی) بداخل‌چهارده ماده که‌به‌مهر دارالانشاءرسیده منظور است .)

مراتب تصویب مجلس عالی وزراء که به شرف منظوری حضور رئیس دولت جمهوری افغانستان رسیده‌وبشماره(۱۲۳)مورخه ۲۸را ۱۳۵۳ ثبت گردیده بشما اطلاع‌داده شد تا در نشرآن به جریده رسمی اقدام گردد .

**داکتر محمد حسن شرق**

# بسم‌الله الرحمن الرحیم

## دترانزیتی اموالود انتقال تصدی

مقدمه :

الف ـ په ترانزیتی او ترانسپورتی چارو کښی دآسانتیا و دبرابرولو په منظور افغانی ترا نسپورتی‌دولتی تصدی (د ترانزیتی اموالو د انتقال تصدی ) جوړه شویده .

ب ـ دموسسی مرکز په (هرات) کښی دی او کولای شی چه په هیواد کښی دننه نمایندگی جوړی کړی .

### لمړی فصل

#### لمړی ماده ـ

#### د تصدی مرام :

الف ـ په لمړی مرحله کښی دترا نزیتی مالونو انتقال له‌شوروی څخه د پاکستان په لوری اوله پاکستان څخه د شوروی خاوری‌ته د افغا نستان له لاری .

ب ـ د پوره تجربی په لاس ته راوړلو سره‌په دوهمه مرحله کښی دگاونډیو او نورو هیوادونو له لاری د افغانی صادراتی اوواردا‌تی مالونو انتقال .

د پو ر ته مرا م ن پر ځا ی کولو لپاره تصدی کولای شی چه دخپل فعالیت دپرمخ بیولو په‌منظور دداخلی ـ خارجی موسسو سره دعمومی‌آمر له‌منظوری وروسته‌لازم قرار داد ونه عقد کاندی .

## تصدی انتقال اموال ترانزیتی

مقدمه :

الف : بمنظور فراهم آوری تسهیلا ت در امور تر انزیتی دترانسپورتی تصدی ترانسپو رتی دولتی افغانی بنام (دترانزیتی اموالو دانتقال تصدی) تشکیل گر د یده است .

ب: مرکز مو سسه در (هرات) بوده ومیتواند در داخل مملکت نماینده گی ها تاسیس نماید .

### فصل اول

#### ماده‌اول:

#### مرام تصدی:

الف : در مرحله اول انتقال اموال ترانز یتی از شوروی بصوب پاکستان و از پاکستان به خاک شوروی از طریق افغانستا ن .

ب: باکسب تجربه‌کافی درمرحله دوم انتقال‌اموال وارداتی وصادراتی افغانی از طریق ممالك همسایه و سایر کشور ها .

جهت بر آور د ن مر ا م هـا ی فو ق تصد ی میتوا ند بمنظو ر پیشبرد فعالیت خویش قرار دادهای لازمه را بعد منظوری آ مرعمومی با موسسات داخلی ـخارجی عقدنماید.

**دوهمه ماده**

**دشرکت پانګه :**

الف۔ دتصدی لمړنی پانګه له پنځه ملیونه افغانیو څخه عبارت ده چه ټوله په دولت پوری تعلق لری او دمالیی د وزارت دحسابی وارسی لاندی قرار لری .

ب۔ د پانګی زیاتوالی اوکموالی دعمومی آمرپه پیشنهاد او دوزیرانو دعالی مجلس له منلی وروسته صورت مومی . دموسسی کلنی خالصی ګټی داستهلاک ، دمحصولاتو د مالیاتو او نورو لګښتونو لهوضع کولونه وروسته ددولت دواردا تو حساب ته انتقالیږی .

**دوهم فصل**

**د تصدی تشکیل**

**دریمه ماده**

**دموسسی دتشکیلاتو ارګان:**

الف۔ د تجارت وزیر عمومی آمر دی .

ب۔ عامل هیئت .

**خلورمه ماده**

**دعمومی آمر وظیفی :**

۱۔ د موسسی د کلنیو او پرمختیا یی پروګرامونو منته .

۲۔ دکلنی بودجی منته .

۳۔ د موسسی دبلانس کتنه او منته .

**ماده دوم**

**سرمایه شرکت**

الف : سرمایه ابتدایی تصدی عبارت از (پنج ملیون ) افغانی است که تما ماً متعلق به دولت بوده وتحت وارسی حسابی وزارت مالیه قرار دارد .

ب : تزئید و تنقیص سرمایه به پیشنهاد آمر عمومی و منظوری مجلس عالی وزرا صورت میگیرد منافع خالص سالانه موسسه بحساب وار دات دولت بعد ازوضع استهلاک مالیات محصولات و غیره مصارف انتقال داده میشود .

**فصل دوم**

**تشکیل تصدی**

**ماده سوم**

**ارګان تشکیلات موسسه :**

الف: آمر عمومی وزیر تجارت می باشد .

ب: هیئت عامل

**ماده چهارم**

**وظایف آمر عمومی :**

۱۔ منظوری پروګرام های سالانه وانکشافی موسسه .

۲۔ منظوری بودجه سالانه .

۳۔ ملاحظه و منظوری بیلانس موسسه .

٤- د کورنیو او باندنیو پورونو په هکله پیشنهاد .

٥- دکورنیو اوباندنیونمایندگیو دپرانستلو مننه .

٦- دموضوعه اصو لنامو سره سم دموسسی دعالی رتبه مامورینو تاکل .

٧- دموسسی دداخلی مقرراتو او لایحو مننه .

**پنځمه ماده**

**عامل هیئت :**

الف- عامل هیئت د موسسی اجرائیه رکن دی او په دریمه رتبه دموسسی د آمر او څلورمه رتبه دموسسی د معاون څخه جوړ شوی دی .

ب- د عامل هیئت تاکل دعمومی آمر دپیشنهاد په اساس او دواکمن مقام په مننه صورت مومی .

ج- د عامل هیأت رئیس دوهمه درجه داعطا آمر دی او دټولو اجرائیه ، اداری او فنی چارو دپرمخ بیولو څخه دموسسی عمومی آمر ته مسئول دی.

**شپږمه ماده**

**دعامل هیأت وظیفی :**

الف - دموسسی د کلنیو او انکشافی پروگرامو نو تطبیق .

٤- پیشنهاد راجع به قروض داخلی و خارجی .

٥- منظوری افتتاح نمایند گی های داخلی و خارجی .

٦- تعیین مامورین عالی رتبه موسسه برو فق اصو لنامه های موضوعه .

٧- منظوری لوایح و مقرارت داخلی موسسه .

**ماده پنجم**

**هیئت عامل**

الف : هیئات عامل رکن اجرائیه موسسه بوده ومتشکل از آمر موسسه به رتبه (٣) ومعاون به رتبه (٤) میباشد .

ب : تعیین هئیات عامل با ساس پیشنهاد آمر عمومی ومنظوری مقام صلاحیتدار صورت می گیرد .

ج- رئیس هیأت عامل آمر اعطای درجه دوم بوده وا زپیشبرد تمام امور اجرائیه، اداری وفنی نزد آمرعمومی موسسه مسئول میباشد.

**ماده ششم**

**وظایف هئیت عامل**

الف: تطبیق پروگرام های سالانه و انکشافی موسسه .

ب ـ د کلنی بودجی ترتیب او عمومی آمرته یی وړاندی کول.

ج ـ دکلنی بیلانس ترتیب او دموسسی عمومی آمرته یی وړاندی کول .

د ـ دموسسی د عمومی آمر دامرونو پرځای کول .

هـ ـ عمومی آمر ته دصلاحیتونو دتوزیع په هکله د پیشنهاد وړاندی کول .

و ـ د موسسی دداخلی لایحو او تعلیماتنامو ترتیب او عمومی آمر ته یی وړاندی کول .

ز ـ ددغی اساسنامی د موادو داجراء او تعمیل څارنه .

ح ـ د ټولو ترانسپورتی موسسو په خلاف د حقوقی دعوو دپریکون لپاره اقدام .

ط ـ له (۱۳) رتبی څخه تر (۶) رتبی پوری د مامورینو انتخاب او دموسسی عمومی آمر ته د هغو دمنظوری د پیشنهاد وړاندی کول.

ی ـ د تجارت‌وزارت ته دبودجی، بیلانس او لازمو راپورونو وړاندی کول .

ل ـ دتجارتی‌غونډتنو اودترانزیتی او ترانسپورتی ماهیت سره سم دموسسی تجهیز .

ب : ترتیب بودجه سالانه‌وتقدیم آن به آمر عمومی موسسه.

ج: ترتیب بلانس سالانه وتقدیم آن به امر عمومی موسسه .

د : اجرای او امر امر عمومی موسسه.

هـ : تقدیم پیشنهاد راجع به توزیع صلاحیت هابه‌آمر عمومی .

و : ترتیب لوائح وتعلیماتنامه های داخلی موسسه وتقدیم‌آن‌به‌آمر عمومی .

ز : مراقبت اجراء و تعمیل مواد این اساسنامه .

ح : اقدام برای حل و فصل دعاوی حقوقی علیه سایر موسسات ترانسپورتی .

ط : انتخاب مامورین از رتبه (۱۳) الی‌رتبه (۶)و تقدیم پیشنهاد ومنظوری آن به آمر عمومی موسسه

ی : تقدیم بودجه و بلانس وراپور های لازمه بوزارت تجارت

ل: تجهیزموسسه مطابق‌ایجابات تجارتی و ماهیت ترانزیتی وترانسپورتی .

## دریم فصل
## رنگیدل او تصفیه

### اومه ماده

په لاندنیو عوامـلـو موسسه رنگیږی .

الف ـ دوز سپارل شو یو وظیفو دپرمخ بیولو عدم امکان هغه عواملوته په کتنه چه عمومی آمر ته تثبیت شوی وی .

ب ـ د بلی تصدی سره دتصدی یو والی او پیوستون .

### لمړی تبصره :

دتصفیی چاری د عمو می آمر لـه خوا داجراء لاندی نیول کیږی .

### دوهمه تبصره :

د موسسی شتمنی د مربوطـو پورونو او لگښتو نو له ورکـړی ورو سته دمالیی دوزا رت تصفیی ته انتقالیږی .

## خلورم فصل
## متفرقه برخه

### اتمه ماده

د موسسی حسا بی سیستـم دتجارتی مضاعف محاسبی په ډول تنظیمیږی .

### نهمه ماده

دکرایی او نورو خدمتونو دنرخ تثبیت ددقیقو محاسبو لـه مخی او ددولت د ترانسپورتی لایحی پـه مراعات سره د عمومی آمر لـه صلاحیت څخه دی .

## فصل سوم
## انحلال و تصفیه

### ماده هفتم

موسسه نظر بیکی از عوامل ذیـل منحل میشود .

الف : عدم امکان به پیش بردو ظایف محوله نظر به عوامل ملیکه نزد امر عمومی تثبیت شده باشد .

ب: الحاق و اتحاد تصدی بادیگر تصدی .

### تبصره اول

امور تصفیه از طرف امر عمومی تحت اجرأ قرار می گیرد .

### تبصره دوم

دارائی موسسه بعد از تادیـه دیون و مصارف مربوط به تصفیـه وزارت مالیه انتقال داده میشود .

## فصل چهارم
## قسمت متفرقه

### ماده هشتم

سیستم حسابی موسسه بطر ز محاسبه (مضاعف تجارتی ) تنظیم میگردد .

### ماده نهم

تثبیت نرخ کرایه وسایر خدمات بروی محا سبات دقیق ومراعـات لایحه ترانسپورتی دولت ازصلاحیت آمر عمومی است.

**لسمه ماده**

دترانزیتی او ترانسپورتی مقرراتو څخه تخلف د جزایی قوانینو سره سم ، دپاکلو مراجعو له خوا تعقیبیږی .

**یوولسمه ماده**

هغه تعدیلات چه ددغی اساسنامی په موادو کښی لازم شی د عامل هیئت له خوا عمومی آمرته وړاندی کیږی او دوزیرانو دعالی مجلس له منظوری وروسته د اساسنامی سره ضمیمه کیږی .

**دولسمه ماده**

په هغو ټولو مواردو کښی چه په دی اساسنامه کښی یی یادونه نه ده شوی موسسه دتصفیو داصولنامی تابع گڼل کیږی

**دیارلسمه ماده**

موسسه د ټولو مالیاتو ، دولتی او ښاروالی محصولاتو د ورکړی تابع ده.

**څوارلسمه ماده**

دغه اساسنامه په رسمی جریده کی د خپریدو له نیتی نه مرعی الاجراء ده .

**ماده دهم**

تخلف از مقررات ترانزیتی و ترانسپورتی طبق قوانین جزائی ازطرف مراجع معینه تعقیب میشود.

**ماده یازدهم**

تعدیلاتیکه در موارد این اساسنامه لازم شود از طرف هیئت عامل به آمر عمومی تقدیم و بعد منظوری مجلس عالی وزرا ضمیمه اساسنامه میگردد.

**ماده دوازدهم.**

موسسه در تمام موارد دیکه در این اساسنامه ذکرنیافته تابع اصولنامه تصدیها شناخته میشود .

**ماده سیزدهم**

موسسه تابع پرداخت کلیه مالیات ومحصولات دولتی وښاروالی میباشد .

**ماده چهار دهم**

این اساسنامه از تاریخ نشردر جریده رسمی مرعی الاجرأ میباشد.

# دکلهون بیه

| | |
|---|---|
| په کابل کښې | (۲۲۰) افغانی |
| په ولایاتو کښې | « (۲٤۰) افغانی |
| دپوهنی شاگردانوته | نیمه بیه |
| په باندنیو هیوادو کښې | (۱۰) امریکائی دالره |

ددی گڼی بیه (۱۵) افغانی

THE REPUBLIC OF AFGHANISTAN

OFFICIAL GAZETTE

Issue No: 270

Date: May 20, 1974

Kabul, Afghanistan

Address: Ministry of Justice

Editor: Mohammad Daoud Qayuem

تاریخ: دوشنبه ۳۰ ثور۱۳۵۳

تعداد طبع: (۱۳۰۰) نسخه

دولتی مطبعه